ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-30

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

ډاکټر نصيب الله سيماب

پروفېسر، پښتو ډيپارټمنټ يونيورسټي آف بلوچستان کوېټه

# تخقليق او تحليقي عمل

**Dr. Naseeb Ullah Semab ***
Professor, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta.

***Corresponding Author:**

# Creation and Process of Creativity

**ABSTRACT**
It is also defined in literature as in other sciences. It is also clear from this that bringing something into existence is called creation. It is quite true that coming from non-existence into existence is called creation, means that it did not exist before. Now the question is whether existence If they did not have components. They also came into existence from nothing created before) if the components have been brought into existence. Until this question is answered satisfactorily, we cannot be satisfied about creation. We who write poetry short stories or novels and other such things and give the name of the creation. Some scholars and authors are the creators of creative activity with creative ability and creative thinking that creative ability is the act of self-expression and self-development that brings a person on the journey of mysticism. But it would be better if we refer to psychology to answer this question because what is going on inside the human being, what he thinks and why he does it, all this knowledge is related to psychology. Therefore, if the answer to creative action is given in the light of psychology, it may be satisfactory. The more obvious a person is, the more hidden he is. What is meant by hidden is the interiority of a person, and it is this interiority that has a big hand in a person's personality. The effect on his practical life is measured unconsciously.

**Key Words:** *Creation , Creative Thinking, Hidden personality.*

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-30



تخليق څه دی؟ دا يو داسي پراخ بحث دی چي تش تر ادب پوري محدود نه دی په لومړي سر کي د انسان تخليق د کائناتو تخليق څنګه او چا کړی دی؟ خالق يې څوک دی؟کله چي ټول علوم د فلسفې تر سيوري لاندي مطالعه کېدۀ له هغه وخته يعني دعلم له ابتداڅخه تر ننه پوري دا بحث روان دی. په الهي کتابونو کي د فلسفې په کتابونو کي. داسي علمي ځانګه نشته چي دا بحث دي نه وي پکښې.تخليق څه دی؟ که موږ تش د دې ټکي په معنا پسي ګرځو نو د دې لغوي معنا ډېره ساده او اسانه ده.له عدم څخه په وجود کي راتلل. چي موجود نه وي هغه ته وجود ورکول.دا معنا يې په هر لغت کي شتون لري هغه که د سائنسي علومو لغت وي که د بشري علومو لغت وي.يعني هر لغت يې معنا داسي نيولې ده لکه څنګه چي يې موږ ذکر وکړی.زموږ کار چونکې له ادب سره دی يوار به له دې اړخه ورته وګورو چي لغت يې معنا څنګه نيولې ده.د لساني و ادبي اصطلاحات وضاحتي لغت په دې اړه ليکي.

" (1) غير موجود په وجود کي راوستل.(2) په علومو او فنونو کي نوي تصورات،اساليب او د اصنافو ايجاد(3) مروجه تصورات ،اساليب او اصنافو په مرسته د علومو او فنونو په مظاهر(ښکاره وجود)کي اضافه کول(4) هر فني مظهر يو تخليق دی لکه مهابهارت ،ايليډ، شاهنامه،
(سليم شهزاد،2021-245)

د تخليق په ادب کي هم هغه تعريف دی کوم چي په نورو علومو کي دی. له دې څخه هم ښکاره شو چي يو شی په وجود کي راوستلو ته تخليق وائي.دا خبره ښېخي سمه ده چي د عدم څخه په وجود کي راتګ ته تخليق ويل کيږي. معنا دا چي وړاندي يې وجود نه درلود.اوس پوښتنه دا ده چي وجود يې نه درلود نو څنګه په وجود کښې راشي؟ د عدم څخه په وجود کښي د راتللو تر شاه عوامل څه وي؟ دا يوه الهائي پېرزوينه وي، او که د انساني ذهن اختراع وي،اجزائې ترکيبي يې موجود وو که يې اجزائې ترکيبي هم له عدم څخه په وجود کي راغلي دي.که يې اجزائې ترکيبي ( له کوم شيانو څخه چي جوړ دی) وجود درلود و هغوئ ته يې نوی ترتيب ورکړی او يو نوی شی يې ورڅخه جوړ(تخليق) کړی.که يې اجزا هم له عدم څخه په وجود کي راوستلي دي. تر څو دا پوښتنه د قناعت وړ جواب پيدا نه کړې موږ نه شو کولای چي د تخليق په اړه دې اطمينان تر لاسه کړو.موږ چي شاعري کوو، لنډه کيسه ليکو يا ناول او داسي نور اصناف ليکو او د تخليق نوم ورکوو، دا مواد موږ ته له کومه ځايه په لاس راځي او له کومي لاري راځي، وجود يې شتون لري که يې ليکوال موجد دی.

" انسان د خپل عملي کار يا عملي سرګرمۍ په دوران کي قدرتي شيان او وجودو تاثرات د خپلو حسي اعضاؤ له لاري قائموي. ټولي حسي اعضاوي د باندنۍ نړۍ د علم په اړه د يوې دروازې کار کوي.د دې دروازې له لاري

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-30

خارجي نړۍ د انسان و دماغ ته راځي. د حواس له لارې زموږ عمل وقوف (اګاهي،شعور)او ادراک ته يو شکل په لاس ورځي. يعني حس د شيانو د خواص (خاصيتونو) يا اړخونو انعکاس وي. لکه تود، سوړ،دروند،سپک،ښوی او نور. کيدای شي دا رنګه د ړغ شدت زيات يا کم کيدای شي.( ناصر، فاروقي،نفسيات،اتم ايډيشن2013، اردو سائنس بورډ،اسلام آباد،128)

له دې حوالې څخه کوم چې د اروايوهني له علم سره اړه لري دا جوتيږي چې معلومات ،ادرکات،علم او داسي نور د حواسوله لارې زموږ دماغ ته راځي او په خاصيتونو باندي يې خبريږو. ځکه خو يې يوناني فلاسفه ؤ ادب د نقل نقل ګڼلو يا يې تش نقل ګڼلو.په انسان کي هيڅ داسي يؤ قوت نشته چي هغه دي يؤ شی له عدم څخه په وجود کي راولي، يعني چي اجزا يې هم له عدم څخه په وجود کي راولي. انسان لا تر اوسه پوري پر دې باندي برلاسه شوی نه دی. څه انکشافات يا ايجادات چي شوي دي يا کيږي د هغه اجزا وجود لري. د مختلفو اجزاؤ په ملاپ سره (د اضدادو جدلياتي فلسفه يا د تاريخي او جدلي ماديت فلسفه ) نوی شی وجود مومي،د دا نوي شي څخه نوی کار اخستل کيږي. دا هر څه د انسان د تخليقي سوچ په نتيجه کي تر لاسه کيږي.

انسان چي فکرکوي د هغه په نتيجه کي چي سوال پورته کوي پوښتنه کوي دا په اصل کي دانسان تخليقي سوچ دی چي نوی شی په وجود کي راولي. مثلاً فکر کوي چی باران ولي وريږي، لامل يې څه دی؟ لمر څه دی؟ دا غرونه دا رنګه ولي دي ؟ انسان په غوړو ځله اوري په سترګو ديد ځله کوي؟دا فکر يې په ذهن کي پوښتني پورته کوي، لاملونه ته يې پام اړوي. دا هغه پوښتني دي چي په انسان کي د تخليقي صلاحيت نښه په ګوته کوي. د دې پوښتنو په ځواب کي دی پلټنه کوي. د دې پلټني په نتيجه کښي نوي انکشافات کيږي، نوي ايجادات کيږي، يعني اجزا موجود دي ځکه نو د نوي انکشاف يا ايجاد جواز پيدا کيدای شي.

"مختلفو خلګو د تخليقي سوچ لپاره مختلف اصطلاحات کاورلي دي لکه قابليت وجدان،جدت پسندي،اختراع يا د ايجاد قوت،قوت متخيله،د پلټني صلاحيت اونور.د پوهانو اکثريت پر دې خبره متفق دی چي په تخليقي سوچ کي دوه مهم عناصر ګډون لري. (1) جدت،(2) د يؤې ستونزي د حل کولو صلاحيت ،(3) د يو ښه مقصد تر لاسه کولو صلاحيت.له جدت څخه مراد موجوده يا روايتي انداز کي شتون لرونکي شيان،تصورات او نور په انفرادي انداز کي په خپلو کي سره يوځای کول يا له نوي سره ترتيب ورکول دي. په نړۍ کي چي څومره تخليقي کارونه شوي دي په هغو کي و زړو شيانو يا تصوراتو ته په نوي انداز کتل شوي دي. د بيلګي په ډول چي کله نيوټن(Newton) منه د رايله کيدو پر وخت وليده نو دا عمل نه د نيوټن لپاره او نه د بل چا لپاره نابلده ؤ،خو نيوټن دې عمل ته په

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-30
ماخذ تحقیقی مجلہ

يو خاص انداز وکتل او دې ته يې نوې معنا ورکړه دا رنګه د کشش ثقل (Gravity) قانون دريافت شو؛
( رفيق جعفر،نفسيات،اتم ايډيشن2013، اردو سائنس بورډ،اسلام آباد،437)

له دې څخه موږ په دې نتيجه رسيږو چي تخليق له عدم څخه په وجود کي نه راځي بلکې اجزايې شتون لري. دې اجزاؤ ته له بلي زاويې کتل نوی ترتيب ورکول يا په نوي ترتيب ايښول نوی شی زيږوي چي هغه ته موږ تخليق وايو.هم دا رنګه تخليق په ادب کي دی. په ادب کي داسي نه دی چي يؤ شی بالکل له عدم څخه په وجود کي راځي اجزا يې شتون نه لري،بلکې يؤ شي ته له نوي زاويې کتل کيږي.کوم خيالات،تصورات چي شتون لري هغه يو ليکوال د خپل تخليق صلاحيت په مرسته په نوي شکل کي وړاندي کوي. تخليقي صلاحيت لرونکي خلګ ځيني داسي خصوصيات لري چي هغه دی له عامو خلګو څخه جلا کوي. په دې کي تر ټولو مهم خصوصيت انفراديت پسندي (ځان خوښي)ده. ځان خوښي يو داسي خصوصيت دی چي هغه انسان پر دې مجبوره کوي چي داسي فکر وکړي داسي عمل وکړي چي ځانګړتيا ولري له روايتي شيانو څخه بيل وي. د نورو په مقابله کي يې خپل فکر تر هر چا خوښ وي.د نورو پر ځای پر ځان زيات اعتماد کوي.د ځان خوښۍ دا عادت دی په دې محبور کوي چي نوی کار وکړي،ځکه خو په ليکوالانو کي د نرګسيت مرض زيات ليدل کيږي.

"د ځينو ماهرينو خيال دی چي تخليق کار د خپل شخصيت غير شعوري محرکات قبلوي.دا رنګه د ده په داخل کي چي کوم شورش ،عدم استحکام او په خارجي نړۍ کي چي کومي پيچلتياوي او افراتفري ده له هغه څخه نه ويريږي. ځکه چي په تخليقي عمل کي منطق او د عقل په مقابله کي دا غير شعوري محرکات زيات مهم کردار لوبوي.(ايضاً-438)"

ليکوال د نورو خلګو په مقابله کي زيات فکري الوت لري.د خيالونو او خوبونو په نړۍ کي ژوندکوي.خپله خيالي نړۍ سازول غواړي.دا خصوصيت دی پر دې مجبوره کوي چي دی د خپل فکر زاويې بدلي کړي د روايتي فکري نړۍ څخه بغاوت وکړي. د تخليق کار خصوصيت دا دی که څه هم منفي دی چي پرځان دومري مئين وي چي خپلي کمياني او کمزورياني هم ورته خوبياني ښکاره کيږي. د ځينو خلګو دا خيال دی چي تخليقي صلاحيت خدايي ورکړه ده دا په خاص خاص خلګو کي وي. دا خبره زما په خيال له حقيقت سره اړه نه لري. تخليقي صلاحيت په هر انسان کي موجوده دی چي د تربيت او ماحول له لاري دا صلاحيت ځان ښکاره کوي.تاسو په نړۍ کي وګورئ چي څه تخليقات شوي دي هغه که په ادب کي دي که په سائينس کي د ژوند په هر ډګر کي چي دي د ماحول او تربيت په نتيجه کي شوي دي.دا صلاحيت د هم دې لاري ځان ښکاره کړی دی. په انسان کي دا تخليقي صلاحيت پر مخ تګ غواړي.لا نور ښه کول

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-30
ماخذ تحقیقی مجلّہ

غواړي چي هغه په علم ،مشاهده، تجربه باندي کیږي.که چیري داسي ونه شي دا صلاحیت بیا مري.د مثال په توګه یې موږ د زدکړو بېلګه راوړلای شو ،چي د زدکړي صلاحیت په ټولو انسانانو کي شته څوک زدکړي وکړي او څوک زدکړي نه شي کولای د هغه وجه ماحول او موقعه ده چا ته چي په لاس ورغله هغه زدکوي وکړې چا له چي موقع نه شوه پیدا هغه له زدکړو محروم شو.ځکه نو دا خبره سمه ده چي ماحول او تربیت ورلره شرط دی.که څوک ښه شعر لیکل غواړي نو د دې لپاره ریاضت او مطالعه بنیادي شرط دی.که چیري دا شیان نه وکړي نه شي کولای چي ښه شعر دي ولیکي. دا رنګه په فشکن کي په تحقیق او تنقید د ریاضت او علمیت ضرورت وي.که څه هم ځینو پوهانو تخلیق د لاشعور سره تړلی دی.دا هغه وخت چي انسان په خیالي یا فکري نړۍ کي لامبوزن شي نو د لاشعور و تیاره کوټې ته ولاړ شي د قوت متخیله په مرسته ځیني نوي خیالات او نوي تصورات پیدا کړي.خو دا شیان هم د مطالعې او علم په زور کیږي.علم د لیکوال په فکري کینوس کي پراخ والی راولي.علم د لیکوال په فکري کېنوس کي پراخوالی راولي.فکري کینوس د لیکوال خپله فکري نړۍ سازوي د دې فکري نړۍ اظهار لپاره دی تخلیق کوي خپل فکري نړۍ په خلکو پیژندل غواړي.

تخلیقي عمل او نفسیات

د تخلیق په اړه چي کوم بحث وشو چي تخلیق څه دی اوس به د تخلیقي عمل و خوا ته راشو چي تخلیقي عمل څه دی او څنګه تر سره کیږي؟ تخلیقي عمل څنګه تر سره کیږي دا یوه بنیادي پوښتنه ده چي ادب پوهانو یې جواب ویلی هم دی،ځیني پوهان تخلیقي عمل له تخلیقي صلاحیت سره تړي او فکر لري چي تخلیقي صلاحیت د اظهار ذات او د ذات د انکشاف عمل دی چي انسان د عرفان ذات په سفر بیایي.خو که د دې پوښتني د جواب لپاره د نفسیات څخه رجوع وکړو ښه به وي .ځکه چي د انسان دننه چي کوم څه روان وي هغه څه فکر کوي او ولي یې کوي دا ټول علم له نفسیات سره اړه لري.له هم دې امله که د تخلیقي عمل جواب د اروا پوهني په رڼا کي ورکول شي ښایي چي د قناعت وړ وګرځي.انسان چي څومره ښکاره دی هغومره پټ دی.د پټ څخه مراد د انسان داخلیت دی. هم دا داخلیت دی چي د انسان په شخصیت کي لوی لاس لري.د هغه پر عملي ژوند باندي په لاشعوري توګه اثر اندازه کیږي.د انسان داخلي خواهشات داسي دي چي دی په خارجي عمل باندي مجبوره کوي. ځیني داخلي ضرورتونه وي ځیني خواهشونه وي چي انسان یې له مختلفو لارو پوره کول غواړي. په دې اړه د فرائډ د لاشعور نظریه او د یونګ د اجتماعي لاشعور نظریه،د تخلیقي عمل په اسبابو کي زیاته مرسته کوي.د فرایډ په نېز تخلیقي صلاحیت په حقیقت کي د شعور او لاشعور د محرکاتو په منځ کي د تضاداتو نوم

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-30



دی،او دا تضادات تخليق کار په خپله ټولنه کي موجود کلتوري رواجونه د ادب په بڼه کي رامخته کوي. اروايوهان په دې اتفاق لري چي د شخصيت د داخلي اظهار خواهش د ادبي تحريک يو مهم محرک دی. له هم دې ځايه څخه په ادب کي د تحليل نفسي عمل هم شروع کيږي د اردو ژبي نقاد محمد حسن عسکري په دې اړه ليکي.

" د تخليق سرچشمه د فرد په ذات کي شتون ضرور لري له دې څخه زه انکار نه کوم،خو سړی د خپلو ذاتي يا اجتماعي کړکيچونو د نکاسي (ايستلو) لپاره د فن څخه هغه وخت مرسته اخلي چي دا ذريعه د ټولني لپاره د قبول وړ وي.او د هغه اهميت په اجتماعي توګه تسليمېدای شي. يعني چي ټولنه په خپله وغواړي چي دا ذريعه دي استعمال کړل شي.د دې معنا دا شوه چي تخليق تش فنکار نه کوي بلکې اجتماعي لاشعور هم په دې کي لويه ونډه لري.که د مبالغې څخه کار واخلو نو دا ويلای شو چي فنکار خو تش د اجتماعي لاشعور آله کار وي.

(ډاکټر سليم اختر، نفسياتي تنقيد، مجلس ترقي ادب لاهور، 1986-234)

دلته دا خبره د يونګ د اجتماعي لاشعور په رڼا کي شوې ده چي زما په خيال دا د تخليق دويمه مرحله ده چي د ټولني سره اړه لري.ولي چي تخليق د ټولني د قبوليت وړ ځان ګرځوي نو بيا و ټولني ته وړاندي کيږي،ترد ې د مخه تخليقي عمل د يو انسان خالص شخصي او انفرادي عمل وي.انفرادي عمل ځکه دی چي د ده تر ذات پوري محدود دی.دا ده اختراع ده چي تر اوسه پوري لا ټولني ته نه ده وړاندي شوې.دا عمل فرايډ د جنسيت سره تړي.جنسي خواهشات يا جنسيت هم په ټولنه کي يو داسي عمل دی چي هغه اجتماعي بڼه نه لري.په انفرادي حيثيت کي هر انسان له دې شي سره مخامخ کيږي چي د ټولني د ورکړل شوو اصولو په رڼا کي تر سره کيږي.دا يو داسي جبلت دی چي انسان به يې تر خپل لاس لاندي ساتي و خپل سر ته به يې نه ايله کوي.دا تر لاس لاندي ساتل يا په خپل کنټرول کي ساتل په اصل کي هغه پابندي ده چي فرائډ يې ذکر کوي. نا اسوده خواهشات (ناپوره شوي ارمانونه )دا خواهشونه په لاشعور کي ميشت وي خو د تخليق په وخت سر راپورته کوي او په غير محسوس انداز په تخليق کي ځان ځايوي.

" فرائډ د ادب په تعريف کي په لومړي ځل تخليقات د لاشعوري محرکاتو ثمر وبالی.په دې اړه د تخليق کار شخصيت،کردار،ميلانات او په خاصه توګه پر تخليقي محرکاتو رڼا اچوي."(ايضاً،63)

له دې حوالې څخه موږ دا پايله اخلو چي تخليقي عمل په لومړي سر کي انفرادي وي.ځکه چي د هغه و شاته چي کوم محرکات دي هغه د انسان انفرادي

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-30
ماخذ تحقیقی مجلہ

دي.دا شی انسان په دې مجبوره کوي چې هغه د دې اظهار وکړي په دې اړه جوزف بروړر د ګوئیټي په اړه لیکي.

"چې ترڅو ګوئیټې د خپلې یو تجربې په شاعرۍ کې اظهار ونه کړي هغه ته سکون نه ملاویږي.د هغه لپاره په دې کې سکون پذیري (سکون لټول) په دې کې پټه وه چې تر څو ده داسې نه وائي کړي هغه د یو خاص رنګه جذباتي جوش څخه د پیدا شوي اذیت څخه ځان نه شو خلاصولی.(ایضاً 64)"

داخبره تر ډېره حده پوري سمه ده چې انسان د خپلو جذباتو له لاسه مجبوره کیږي او د تخلیقي عمل برخه ګرځي.خو کله چې فرائډ دا عمل تش د جنسیاتو سره تړي هلته د اختلاف ګنجائش پیدا کیږي.د جنسیاتو خواهش که څه هم انساني جبلت دی خو له دې سره سم څه نور هم داسې انساني جبلتونه دي چې په انسان کې شتون لري لکه لوږه،تنده،اختیار او داسې نور.کله چې په دې اړه یا له دې شیانو سره تړلي ارمانونه نه پوره کیږي هغه هم د ناسوده خواهشاتو په لسټ کې راځي چې د تخلیقي عمل پر وخت ځان رابرسیره کوي.د برګسان نظریه وجدان هم له دې ځایه څخه شروع کیږي چې د عقل په نفي کې یا یې تر دویمې مرحلې پوري محدود ساتي.هغه و وجدان ته د جبلت نوم هم ورکوي. هغه د تخلیق په اړه دا نظریه درلود چې عقل تر میکانکي پایلو پوري انسان بیولای شي،خو هغه تخلیق به له فطري خوبیانو څخه خالي وي چې تش پر عقل باندې اډانه لري .د وجدان له خوا چې کوم تخلیق کیږي هغه فطري وي بې ساختګي لري چې څنګه یې احساس کړی وي هم هغه رنګه یې وړاندې کوي له تصنع څخه پاک او صفا وي.که څه هم برګسان دا نظریه د عقلیت په ضد وړاندې کړې ده چې نور اړخونه به هم لري خو موږ دلته دا ذکر ځکه راوړی چې کله تخلیقي عمل په لومړي پړاؤ کې وي هغه د خپل جبلت سره سم خپله خوښه کوي.هغه څه د تخلیق برخه جوړول غواړي چې د جبلت غوښتنه ده،لیکوال پر دې وخت د دې جبلت له لاسه مجبور وي چې په څه د دې جبلت تسکین کیږي دی یې کوي د ټولنې ټول اقدار یې له نظر لیرې شوي وي. په دې اړه ډاکټر وزیر اغا ډېره ښه خبره کړې ده.

؛او په اصل کې جبلتونو د شرم و حیا سره هیڅ کار نه لري هغه د خواهش لوڅ صورتونه دي؛(REKHTO.ORG)

ځیني پوهان بیا دا فکر کوي چې تخلیقي عمل په اصل کې د یو داسې قوت له خوا تر سره کیږي چې په هغه کې د انسان هیڅ عمل دخل نه وي.لکه برګسان چې د وجدان خبره کوي.دا فکر لرونکي دا عقیده لري چې دا کشف والهام دی د یو داسې هستۍ لخوا چې انسان یې نه ویني.ځیني پوهان بیا تخلیقي عمل ته د جدلیاتي مادیت په تناظر کې ګوري.هغه دا فکر لري چې هر څه په معروض کې د پېښو ستونزو څخه زیږي.په نړۍ کې چې هر څه کیږي دا د

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-30

جدلي عمل برخه ده نور هيڅ نشته. دا په ټولنه کي پيدا کيږي.په ټولنه کي چي کوم معاشي،اقتصادي،نابرابري وجود لري هغه د طبقاتو د پيدا کولو سبب ګرځي.لکه څنګه چي په جدلياتي ماديت کي د دوو ضد قوتو په ټکراؤ کي مثبت پايله راځي هم داسي دا ټولنه پرمخ تګ کوي.دا رنګه تخليقي عمل هم د دې جدلياتي ماديت برخه دی او د ټولني په معروض کي زيږي او د ټولني نمائندګي کوي.په دا ډول چي کومي ستونزي په ټولنه کي د طبقاتو له کبله پيښي دي هغه د تخليق برخه وګرځوي.

د تخليقي عمل په اړه يو نظر دا هم دی چي دا تش د انسان لپاره د خوشحالی باعث ګرځي.په دې ډله کي کروچي،کالنګ وډ او نور شامله دي.دوی د ښکلا په تناظر کي تخليقي عمل د داخل له اظهار سره تړي چي په دې اظهار باندي انسان ته خوشحالي رسيږي چي دجمالياتي حس له لاري جمالياتي خوند تر لاسه کوي.د ټولنيزو ستونزو او يا نورو ستونزو هغه که داخلي وي که خارجي له دې سره يې هيڅ اړه نشته.لکه د اوبو څښل د ډوډۍ خوړل او داسي نور چي د ټولنيزو ستونزو سره کار نه لري دا يې هم نه لري. تخليقي عمل تش د تخليق کار تر ذات پوري محدود وي .دا د تخليقي عمل هغه بنيادي نکته ده چي مختلف الفکر پوهانو د خپل فکر مطابق توضيح کړي ده. خو دا لومړۍ مرحله ده لکه څنګه چي مي مخ کي وويل چي دا د تخليقي عمل لومړۍ مرحله ده چي سرچينه يې له کومه ځايه ده دا هغه ځای په ګوته کوي.له دې وروسته نوري مرحلي دي چي تخليق په بشپړه توګه په وجود کي راولي دې مرحلو ته ډاکټر وزير آغا داسي اشاره کوي.

" ګويا په تخليقي عمل کي لومړۍ مرحله د طوفان ده چي په هغه کي عناصر يو له بل سره نښته (ټکراؤ)کوي.بيا د بې هيئتي مرحله راځي چي هغه ته د ارتکاز(څنګ وهل)مراقبه، خود فراموشي(ځان هيرول) يا (Incubation) دوره ويل په کار دی.او بيا د جست (لټون) مرحله ده چي اصلاً د تقليب (اړول را اړول) يو داسي بڼه ده چي په هغه کي تخليق په يو منفرده او نابلده وجود کي ځان ښکاره کوي. له دې پس د تخليق مکرر مرحله ده چي په هغه کي لوستونکي(قاري)په عمل معکوس کي راګير شي او د نراج هغه عالم ته ورسيږي لکه کوم چي تخليق د زقند سره د باندي راوتلی ؤ.(REKHTA.ORG )

که چيري موږ په اسانه او ساده ټکو کي د تخليقي عمل وضاحت کوو نو هغه به داسي وي چي تخليقي عمل باقاعده يؤ پروسيسس دی. چي ابتدا يې له يو داسي پيښي څخه کيږي چي هغه د حواس خمسه له لاري د انسان په داخلي سمندر کي طوفان راولي.د جذباتو دا طوفان د اظهار غوښتنه کوي.کله چي اظهار د ترسيل مرحلي ته راځي هلته د عقل له لاري د هيئت تعين کوي .دلته له هيئت څخه زما مراد د اصنافو هيئت دی چي کوم وخت د هيئت تعين وشي بيا د ټکو

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-30

ضرورت رامنځ شي،ځکه چي و اظهار ته د ابلاغ ضرورت وي.دا ابلاغ په لومړي سر کي د ټکو پر اهميت او ابلاغي حيثيت پام نه کوي چي کله په خاص صورت کي مکمل شي بيا دعقل و ترازو ته ولوېږي.چي هغه يي فکر او فن دواړه د ټولني او اولس د مزاج مطابق رغوي.که چيري يو تخليق تر دی مرحلو راوځي هغه بشپړه تخليق جوړېږي او په ټولنه کي ځای پيدا کوي د لوستونکي باړ ماتوي. که په دې مرحلو کي چيري هم ګېپ راشي بيا تخليق د نيمګړتيا سره مخامخ کيږي چي په ټولنه کي د پايدار ژوند طاقت له لاسه ورکوي په دې اړه سليم شهزاد داسي ليکي.

" د شعور و سطح ته د راتګ پس اظهار د مختلفو وسايلو غوښتونکی وي.چي د فن کار له ذات څخه د باندي وجود لري. لکه (ژبه و قلم، تيشه و سنګ،ساز و رنګ او نور )د دې په کاروني (استعمال) سره هم د تخليقي عمل نفسيات ژوندي وي.يعني د ماضي و حال تاثرات په ريښتوني تخليق کي د بدلولو لپاره فن کار انتخاب و ترتيب ،رد و قبول او ټول صناعي او هنرمندي په کار اچوي. د ناتمامي نااسودګي او اضطراب رنګه جذبات تر څو ختم شوي نه وي هغه خپل تخليق ګوري او راګوري،کمي بيشي په کي کوي. تر څو د خپل تخليق د بشپړه کيدو احساس ورته وشي بيا يي لوستونکي ته وړاندي کوي؛ (سليم شهزاد، لساني و ادبي اصطلاحات، عبدالله اکيډيمي، لاهور، 2021-246)

له دې بحث څخه موږ دې پايلي ته رسيږو چي،تخليقي عمل مختلف مراحل لري تر څو تر دې مرحلو را و نه وځي تخليق نه بشپړه کيږي. کوم نظريات چي د تخليقي عمل په حواله وڅېړل شوه هغه ټول موږ په دوو برخو ويشالای شو، داخل او خارج. هره نظريه پر خپل ځای د خپل نکته نظر په حق کي د قناعت وړ جوابونه لري. ځکه چي ځينوو د لومړۍ مرحلي په چوکاټ کي دې عمل ته کتلي دي.ځينو په دويمه مرحله کي ورته کتلي دي.دا ټولي مرحلې چي سره يو ځای شي بيا تخليقي عمل تکامل مومي.

کتابيات

1 -سليم شهزاد- (لساني و ادبي اصطلاحات ک وضاحتي لغت-فرهنګ ادبيات،2021
2 -. ناصر، فاروقي،نفسيات،اتم ايډيشن، اردو سائنس بورډ،اسلام آباد،2013
3 -( رفيق جعفر،نفسيات،اتم ايډيشن، اردو سائنس بورډ،اسلام آباد،2013
4 --ډاکټر سليم اختر، نفسياتي تنقيد، مجلس ترقي ادب لاهور، 1986
5 -REKHTA.ORG